# العاديات

**مکی سورة دی ۱۱ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلۡعَٰدِيَٰتِ ضَبۡحٗا ١

**قسم په هغو ځغلیدونکو( آسونو) چې په ځغاسته کې په پرشهار ساه اخلی.**

فَٱلۡمُورِيَٰتِ قَدۡحٗا ٢

**او له سمانو نه یې د اور سپرغی الوزی.**

فَٱلۡمُغِيرَٰتِ صُبۡحٗا ٣

**او د سهار په خړه کې( په دښمن) یرغل کوی.**

فَأَثَرۡنَ بِهِۦ نَقۡعٗا ٤

**او یو خړ گرد راپورته کوی.**

فَوَسَطۡنَ بِهِۦ جَمۡعًا ٥

**او( د دین د دښمنانو) په ټولی وردننوځی.**

إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لِرَبِّهِۦ لَكَنُودٞ ٦

**حقیقت دا دی چي انسان د خپل رب( په مقابل کي هغه ناشکره او) کنود دی( چي مصیبتونه یي یادوی او نعمتونه یې هیروی).**

وَإِنَّهُۥ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ ﴿٧﴾

**او انسان( ضمیر یې) پخپله د دغې ناشکری ګواهی ورکوی.**

وَإِنَّهُۥ لِحُبِّ ٱلۡخَيۡرِ لَشَدِيدٌ ﴿٨﴾

**او د مال او شتمنی په مینه کي ډوب دی( او حرص، طمعي، بخل او حرامخوری یې سترګي ورپټي کړې دی).**

۞ أَفَلَا يَعۡلَمُ إِذَا بُعۡثِرَ مَا فِي ٱلۡقُبُورِ ﴿٩﴾

**آیا هغه( ورځ) یې فکر ته نه راځی چي په قبرونو کي پراته( مړی) به بیرته راژوندی شی.**

وَحُصِّلَ مَا فِي ٱلصُّدُورِ ﴿١٠﴾

**او د زړونو د اسرارو غوټي به راوسپړل شی. ( او له ده نه به د شتمنی د راټولولو او ورځخه د استفادې د څرنګوالی پوښتنه وشی) .**

إِنَّ رَبَّهُم بِهِمۡ يَوۡمَئِذٖ لَّخَبِيرُۢ ﴿١١﴾

**بې له شکه چي رب یې د دوی په ټولو اعمالو ډیر ښه خبر دی او په همدغه ورځ به( ورسره حساب کتاب وکړی).**

**« تمت سورة العاديات بفضل الله و رحمته»**

**===================**